نجیب منلی


۲۰ جولای ۲۰۱۱

# د تاریخ جبر

د ګنو او سترو خونړیو پېښو په منځ کې افغان ځواکونو ته د بامیان د امنیت لېږد نالیدلی غونډې تېر شو.

کورني او سیاسي مبصرین چې همدا ځو میاشتې وړاندې یې احمد ولي کرزی د حامد کرزي او اوباما تر منځ د اړیکو د خرابېدلو ستر علت ګاڼه، نن وایي چې د ده مړینه به په کندهار کې د امریکا سیاستونو ته سخت زیان ورسوي. هماغه د نظر خاوندان چې پروسږکال یې د یو بې نومه امریکایي افسر له خولې ویل چې که امریکا بل هېڅ و نه کړي نو احمدولي کرزی باید له مخالفینو سره د نېږدې اړیکو په تور ونیسي او بیا یې خپل «د وژنو او نیونو» لېست کې شامل کړي، نن لګیا دي وایي چې همدغه کس د طالبانو له خوا ځکه ووژل شو چې د سولې د بهیر خورا اغیزمن کرکټر و. د هېواد ټول سیاسي، اقتصادي او امنیتي مسایل په همدغه تله تلل کېږي.

د لېږد د بهیر په اړه هم که مبصرینو ته غوږ شو نو خبره لا له پیله ورانه ده. د مخالفینو فعالیتونه، د ملي امنیتي ځواکونو نه تیاري، د امریکا په سیاستونو کې د ریښتینولۍ نشتوالی، په روسیې او منځنۍ اسیا کې د امریکا اوږدمهالي ستراتیژیکي ګټې دا ټول د لېږد د پروسې د ناکامۍ نخښې دي.

عامه افکار هم چې له همدې خړې چینې خړوبېږي دومره روڼ لید نه شي درلودای چې په دې ګډوډۍ کې خپله لار ومومي.

«بحران» د ژبې هغه تکې دی چې زموږ په اوسنیو سیاسي تبصرو کې تر بلې هرې مقولې ډېر کارول کېږي. افغانستان د «بحران» په لور روان دی، سیمه د «بحران» په لور روانه ده، شورا د «بحران» په لور روانه ده، حکومت د «بحران» په لور روان دی، ټولنه د «بحران» په لور روانه ده...

له یوې خوا ناکامي او له بلې خوا بحران. که د افغانستان په معاصر تاریخ کې چا، کله د رڼا ځرک هم لیدلی و، اوس باید ډاډمن و اوسو چې راتلونکي مو په تیارو کې ورکه ده. و به بې منو. اوس نو چې ماضي تللي، سبا مو په تیاره کې دی، لږ به خپل اوس ته ځیر شو.

که امریکایان ریښتیني وي که منافق، که پاکستان زموږ دوست وي او که دوه مخی سیاست راسره لوبوي، که ایران مو په درد دردمن وي او یا مو کندې ته غورځوي، هر څه چې وي، خو یوه خبره پوره ښکاره ده، او هغه دا

ده چي، نن وي که سبا، پر افغانستان د مرستو نل ليکه په بندېدو ده. افغانان تياري ولري که نه، سبا به د خپل هېواد او د خپل ورځني امنيت د ساتلو درنده وظيفه ور ترغاړې وي، خپل ماشومان به ښوونځيو ته لېږي، خپلو ناروغانو ته به درمل پيدا کوي، خپل نظام به پرېښو ولاړ ساتي.

دا نه د بل چا ستونزه ده، او نه په بل چا پورې اړه لري. دا د افغانستان او د افغانانو د ژوند خبره ده چې حکومت، پارلمان او ولس بايد ورته ځان اماده کړي. د بهرنيو سرتېرو وتل، سږ کال وي، که دوه کاله وروسته او که لس کاله وروسته، يو حتمي کار دی او طبعاً به د افغانستان پر اقتصاد منفي اغيز لري. که پلانی د پارلمان غړی شي او بيستانی له پارلمان څخه و ايستل شي، که يو وزير شي او بل له وزارته وشړل شي، که د حامد ورور زندان ته شي يا د قسيم د تره زوی له زندانه بهر پاتې شي. دا د لنډمهاله سياستونو ډېرې فرعي پېښې دي، خو په کليو او باندو کي د بېکارۍ ستونزې ته اوږه ورکول، د ځوانانو له پاره د تعليم زمينه برابرول، د ترانسپورت مشکل حل کول او داسې نور د ټولو افغانانو ضرورتونه دي.

سياستوال او مبصرين دې لګيا وي خپلې معاملې او خپلې تبصرې دې کوي، خو ولس ته هم بايد څوک ووايي چې سختې شپې مو په مخکې دي او که نه غواړو چې سبا مو تر پرون بتره وي، بايد همدا اوس، هر څوک، پرته له دې چې د سياست ډنډې ته کاني ورواچوي، د خپل نن او سبا غم وخوري. **پر ځان بسيا کېدل هغه څه دي چې د ملت بقاء وربورې تړلي ده، د پردي خيرات تر غوښو او ډوډيو به مو خپله وربشينه ستغه وي، خو په پردي خيرات کي د بې برخې پاتې کېدو احتمال ډېر دی، او په غلميني د خپلې اوربشيني بدلول زموږ په واک کي کار دی.**